| | |
|---|---|
| دافغانستان اسلامی جمهوریت<br>د تــــاکنو خپلواک کمیسیون | جمهوری اسلامی افغـــانستان<br>کمیسیون مستقل انتخـــابات |

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړي شمیره : | ۳۰- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | - د ټاکنو د سرته رسیدو وروسته ښوونځیو ته د چوکیو سپارل.<br>- د تخار ولایت په ورسج ولسوالی کي د رای ورکوني د محل ایجادول.<br>- رسنیو او وړاندیز کوونکو ادارو ته د بارو لیکونو ورکول. |
| سرچینه: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست. |
| وخت ،تاریخ او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ل کال د وږي ۱ چي د ۲۰۱۰ز کال د اګست له ۲۳ نیټي سره سمون خوري. د ټاکنوخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضر غړي: | ښاغلی فضل احمد معنوي، ښاغلی سترجنرال ایوب اصیل، ښاغلي مومنه یاري، ښاغلي مستوره ستانکزی، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي. |

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادي پر اساس.
د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اجندا کي د دخیلو موضوعګانو پر هکله پریکړه کړي:

۱- د ټاکنو د سرته رسیدو وروسته د محلونو د چوکیو سپارل ښوونځیو ته د جمهور ریس د لوړ مقام څخه دي غوښتنه وشي.

۲- د تخار ولایت د ورسج ولسوالی کي د ځینو خلکو د مرکز څخه د لرې والي له کبکه مرکز ته نه لاس رسی او دې ته څیرمه نورو ستونزو پر نظر کي نیولو سره د سیب درې په مسجد کي د دوو محلونو ایجادول.

۳- اسنادو ته په نظر کي نیولو سره د لاندې یاد شویو ادارو ته دې باور لیکونه ورکړل شي.

- د انګلستان سفارت د نړیوال څارونکي اداري په حیث؛
- د جرمني سفارت د نړیوال څارونکي اداري په حیث؛
- پژواک خبري اژانس؛
- د ځوانانو ملي ټولنه ؛
- د ځوانانو غږ رادیو؛